بسم الله الرحمن الرحیم

# بې‌ساری اقتصادي نظام

## لومړۍ برخه

## د اسلام اقتصادي نظام په اړه پوهې ته جدي اړتیا

د اقتصادي بېدارۍ او پرمختګ عقیدې او افکارو ته ارزښت ورکول د یوه دولت د ځواکمنتیا له هغو مهمو عناصرو څخه بلل کېږي، چې د ټولنې په نېکمرغۍ، د خلکو د اړتیاوو په پوره کولو، د ژوند له نعمتونو د ګټې اخیستنې او اسانتیاوو د رامنځته کولو په برخه کې مهم رول لوبوي. یو دولت د خپلې جغرافیې، نظام، داخلي او بهرني امنیت د ملاتړ او همدارنګه د خپل پرمختګ او د پرمختګ د وسایلو د درلودلو لپاره اقتصادي ځواک ته اړتیا لري. که څه هم اقتصادي ځواک په نړیوال سیاسي موقف او د یوه دولت د افکارو په لېږدولو کې ډېره اغېزه لري؛ خو بیا هم اقتصاد د ځواک تر ټولو مهم لامل نه دی، ځکه تر اقتصاد مهم هغه فکر دی چې دولت یې پر بنسټ جوړ شوی وي، امت یې په خپل ژوند کې لېږدوي او د هغوی د ژوند کولو بڼه  رامنځته کوي.

تر اقتصاد عقیده مهمه ده؛ هغه عقیده چې د انسان د افکارو قاعده تشکیلوي، ځکه له دې عقیدې پرته چې کوم افکار رامنځته کېږي د تغییر او له منځه تلو امکان یې شته. همدارنګه د دې عقیدې په نشت سره دولت کمزوری او پاشل کېږي او په ټولنه کې د یووالي عوامل او وسایل له منځه ځي او په دې سره به امت هم خپل هغه افکار له لاسه ورکړي، چې له نورو یې بېل او ځانګړی کړی دی. ان له دغو افکارو پرته به د ژوند لپاره ټاکلې طریقه هم ونه لري، یووالی او د ځواک عناصر به یې له منځه ولاړ شي. یعنې د واقعیت په ډګر کې یې زوال حتمي دی، که ظاهري چوکاټ یې باقي پاتې هم شي. کله چې ټولنه او امت خپل هغه مفاهیم او افکار له لاسه ورکړي، چې د دوی د ژوند چلند او جوړښت یې رامنځته کړی، نو په ډاډ سره ویلی شو چې خپل کلتور او علوم له لاسه ورکوي. دغه راز د خپل تاریخ په اړه به ناخبره وي، هغه به هېر کړي او حتی ترې منکر به شي.

ښکاره بېلګې او شواهد پورته واقعیت په ډاګه کوي او هېڅ شک پکې نشته. د مسلمانانو هغه دولت چپه شو چې د یووالي رمز، د دین او امنیت ساتونکی او د امنیت او عزت سرچینه و. د امت قدرت خلافت (وروسته له دې چې امت د اسلامي افکارو په درک کې کمزوری شو) چپه شو او قدرت یې پای ته ورسېد. که څه هم له اسلام څخه تر لاسه شوي ټول افکار یې له لاسه ورنه کړل. په همدې توګه عقیده، چې د افکارو بنسټ یې و، له لاسه یې ورنه کړه؛ بلکې د اسلامي افکارو په فهم کې له جدي کمزورۍ سره مخ شول او سقوط یې وکړ. په دې ډول اسلامي امت خپل یووالی له لاسه ورکړ، په بېلابېلو برخو ووېشل شو، غیر مسلمانان یې د خپلو چارو رهبران وټاکل، ټولنې

یې د ژوند د ډېرو برخو په چلند او افکارو کې له اسلام څخه کفر ته نږدې شوې. همدا راز په امت کې ډېر داسې کسان راپیداشول چې په چل او فریب سره یې ځان مفکر، رهبر او عالم باله او د حکومت، اقتصاد او قانون جوړونې په برخه کې یې له غیر اسلامي اساساتو کار اخیسته. په ځانګړي ډول په ډېرو ټولنیزو چارو او اړیکو کې یې فتواوې او نظرونه ورکړل، حتی اسلام یې رد کړ، انکار یې ترې وکړ او د اسلام پر افکارو او تاریخ یې برید وکړ. دغه کسان د اسلام لېږدونکي ظالم او تروریست بولي او تل د اسلام او اسلامي امت پر وړاندې دسیسې جوړوي.

نو تر هغو چې مسلمانان د اسلامي افکارو ملاتړ ونه کړي او خپل چلند له اسلامي افکارو سره سم نه کړي، دا حالت به په همدې ډول دوام ومومي. د وحې پر بنسټ د اسلامي افکارو پلي کولو وجوب باید عام شي. په داسې ډول چې ټول وانګیري، چې دا افکار د هغه شریعت دي چې الله سبحانه وتعالی د وحې له لارې رالېږلي او په هېڅ حالت کې جوړجاړی نه شو پرې کولی، د ګټې تر لاسه کولو او د خطرونو او ګواښونو په حالت کې یې له کومې برخې نه شو تېرېدلی. دا افکار د تعدیل وړ نه دي چې د اړتیا، پراختیا او تنوع په پلمه به هېڅ وخت تحریف نه شي. تر هغه چې دا افکار په همدې ډول په عامه رایه بدل نه شي، نو د امت د نهضت لپاره بله هېڅ لاره نشته او دولت به تاسیس نه شي. همدا راز اسلامي ژوند به یې بیا په نصیب نه شي، نړیوالو ته به د اسلام دعوت ونه رسیږي او مسلمانان به د لا اله الا الله محمد رسول الله تر بیرغ لاندې راټول نه شي.

**اسلام ته د ژوند په هره برخه کې د شامل او کامل نظام په توګه د امت راګرځېدل:**

پر امت ډېر مصیبتونه، بلاوې او سختۍ راغلې، څو څو ځلې وځپل شو، د محوه کولو لپاره یې دښمنانو ډېرې دسیسې جوړې کړې، خو اوس امت یو ځل بیا پر خپل دین منګولې لګولي او بېرته خپل دین ته ورګرځېدلی دی. امت اوس پر دې پوه شوی چې اسلام کهنوتي دین نه دی او نه هم کومه خالي روحي او عبادتي عقیده ده، بلکې یوه داسې عقیده ده چې عقل ته یې قناعت ورکړی او له دغې عقیدې څخه د خلکو فردي او ټولنیزو چارو، دولت، مسلمانانو او غیر مسلمانانو او همدارنګه د ټولو اړیکو د تنظیم لپاره نظام رامنځته کوي. دغه مسئله په مسلمانانو کې پر عمومي رایه بدله شوې او دا هغه څه دي چې د کفارو مشران، د لویو دولتونو حکام او د هغوی مزدوران یې وېرولي او تل په دې فکر کې دي، چې څه ډول د دې مسئلې مخه ونیسي.

د دې مسئلې د اثبات لپاره شواهد نه وړاندې کوو، ځکه زموږ د بحث محوري موضوع نه ده، یوازې پر دې بسنه کوو، چې د اسلامي ژوند بیا راګرځېدو د مخنیوي لپاره لویو دولتونو او د هغوی مزدورانو توجه کړې او تروریزم ورته وایي. دغو لویو قدرتونو له اسلام سره د مبارزې لپاره قوانین تصویب او نړیوال کړل، هغوی چې د اسلامي دولت د تاسیس لپاره کار کوي تروریستان او تندلاري یې بولي او له دې لارې دوی او افکار یې له منځه وړي. دغه راز

د همدې موخې لپاره يې قوانين جوړ او پر نړيوال عرف يې بدل کړي دي. په ملګرو ملتونو کې د روسيې د بهرنيو چارو وزير څرګندونې، چې د سوريې د انقلاب پر وړاندې او خپل قصاب بشار اسد ته پکې برائت ورکوي، د هغوی موخې ښې په ډاګه کوي، چې ويې ويل: «په سوريه کې روان حالت د دېکتاتورۍ پر وړاندې او د ډيموکراسۍ لپاره نه دی، بلکې د نړيوالې ټولنې پر وړاندې او د اسلامي امت د راپورته کېدو لپاره دی.» دا د نړۍ ستر اواز دی او د خپلو تشويشونو په بدل کې په وحشيانه ډول وژنو ته دوام ورکوي. الله سبحانه وتعالی څه ښه فرمايلي دي:

﴿إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا يُنفِقُونَ أَمْوَالَهُمْ لِيَصُدُّوا عَن سَبِيلِ اللَّهِ ۚ فَسَيُنفِقُونَهَا ثُمَّ تَكُونُ عَلَيْهِمْ حَسْرَةً ثُمَّ يُغْلَبُونَ ۗ وَالَّذِينَ كَفَرُوا إِلَىٰ جَهَنَّمَ يُحْشَرُونَ﴾ [انفال: ۳٦]

***ژباړه:*** *کفار خپل مالونه د الله تعالی له لارې د خلکو د راګرځولو لپاره کاروي، هغوی دغه مالونه (چې د تر لاسه کولو لپاره يې زيار ايستلی) په دې لاره کې لګوي، خو د خپګان او ارمان لامل به يې شي او ماتې به وخوري. په آخرت کې به ټول کفار دوزخ ته د تلو لپاره راټوليږي.*

په حقيقت کې د اسلام، د اسلامي دولت د حاکميت او همدارنګه د شته ټپل شوو نظامونو د له منځه وړلو لپاره عامه رايه رامنځته شوې، خو لا هم د مسلمانانو لپاره د اسلامي نظامونو، د هغو د قواعدو او تفصيل ځينې برخې ګونګې دي. دليل يې په دولت کې د اسلام د پلي کولو له دوران څخه لرېوالی او د اسلام پر وړاندې د شته نظامونو او دولتونو مبارزه ده. بل دليل يې درباري علماء دي چې مسلمانان يې د خپل دين له واقعيت څخه منحرف کړي او اوسنی حالت يې پرې حاکم کړی دی. مسلمانان له اوسني حاکم حالت او غربي افکارو اغېزمن شوي، اسلامي احکامو ته نه ګوري او نه يې درک کوي. تر ټولو مهم څيز چې مسلمانان يې په اړه په جهل کې دي؛ په اسلام کې د حکومتولۍ او اقتصادي نظام دی.

**د اسلام د اقتصادي نظام په اړه ناپوهي:**

په اسلام کې د حکومتولۍ نظام او د دغه نظام د قواعدو، اساساتو او ډېرو نورو احکامو په اړه تر يوې کچې عامه پوهاوی رامنځته شوی، البته دغې مهمې برخې ته د دعوتګرانو د تمرکز له امله؛ خو لا هم په اقتصادي نظام کې پوره پوهای نه دی رامنځته شوی. موخه مو عوام مسلمانان نه دي، ډېر علماء، مخور او مسلمان متخصصين او ان د ډېرو اسلامي حرکتونو کې دعوتګران په دې برخه کې ناپوهه او بې خبره دي. دا هغه څه دي چې په فکري جنجالونو کې د کمزورۍ لامل ګرځي او ډېر ژر بايد دا ستونزه حل شي. په هېڅ وجه په دې برخه کې غفلت جواز نه لري. اسلامي نظام بايد متخصصينو او نورو ټولو کسانو ته ورو‌پېژندل شي او پر عامه رايه بدل شي. د اسلام اقتصادي نظام افکار بايد د حقيقتونو او شرعي احکامو په توګه، چې قوي دلايل لري، بايد خلکو، ټولنې او نړيوالو

ته د ستونزو د حل په توګه وړاندې شي. باید دغه افکار مسلمانو کارپوهانو او متخصصینو لپاره پر مفاهیمو بدل شي.

اوسمهال نړۍ د پانګوال نظام تر ظلم لاندې او په بد حالت کې ده. د داسې یوه نظام تر ظلم لاندې چې مفکوره یې د دین او دنیا د بېلتون پر بنسټ ولاړه ده؛ هغه مفکوره چې په حقوقو او وجایبو کې ترې د عمومي ازادۍ، په حکومتولۍ کې ترې د ډیموکراسۍ او په اقتصاد کې ترې د پانګوالۍ افکار اخیستل شوي دي. که څه هم یو څه وخت غرب په اسلامي خاورو کې د دغو افکارو پر بنسټ بریالی او مسلمانان کمزوري شوي وو او په شرق او غرب کې د کفر مشران له دغه حالته خوښ وو. خو په لنډ وخت کې مسلمانان هوښیار او د غفلت له خوبه پاڅېدل، ترڅو په شرق او غرب کې د کفر له چټلیو ځان وژغوري. دغه راز د ذلت درانه بارونه یې له خپلو اوږو ښکته کړل، د خوارۍ کړۍ یې له خپلې غاړې وایستلې، د ښکېلاکګرو پر وړاندې یې دا ډول شعارونه ورکړل: «نه؛ نه شرقي او نه غربي، اسلامي، اسلامي.» نه ډیموکراسي او نه پانګوالي، بلکې اسلامي خلافت.»

د کفارو له چل او فرېب، د مسلمانانو له قربانیو، سختیو، الله تعالی ته یې له پناه وروړلو او د «یا الله له تا پرته څوک نه لرو!» شعارونو او ستونزو وروسته د غرب او د غرب له مشرانو پرده پورته شوه، د اسلام او مسلمانانو پر وړاندې یې کینه، له حق، حقیقت او اسلامي دولت څخه یې وېره په ډاګه شوه. انساني شیطانان او وحشیان ټولو ته په ډاګه شول، د ازادۍ، حقونو، قوانینو او ارزښتونو په اړه یې ګومانونه او باورونه له منځه ولاړل. کفري او وحشي ارزښتونو په خپلو انحرافاتو کې د انساني فطرت ټولې کرښې تر پښو لاندې کړي دي. د خپل شهوت او نفسي غوښتنو غلامان شوي، مادیت پرستي کوي، انساني روحي او اخلاقي ارزښتونه یې تر پښو لاندې کړي دي. نفسي غوښتنې پرې لاسبرې شوي او له مادیت پرته نور هېڅ شی هم ارزښت نه ورته لري. حتی په مادیاتو کې یې هم ماتې خوړلې ده، له خپګان، وېرې او ناروغیو سره مخ دي، دغو انحرافاتو نړۍ له بدمرغۍ سره مخ کړې او په دې اور کې سوځي. د اسلام د ځلېدو، د پانګوالۍ د بحران او د اسلام پر وړاندې د غرب د جګړې په دغه پړاو او لانجو کې یوازې د اسلام اقتصادي نظام له سترګو لوېدلی، چې صحنې ته به راووځي. د پانګوالۍ اقتصادي نظام په زور او چل سره د نړۍ پر اقتصاد برلاسی شوی او غرب په دې ښه پوهېږي، چې که یې د اقتصادي نظام تسلط له لاسه ورکړ، نو ډېر ژر به راوپرځي او ایډیولوژي او د ژوند طریقه به یې له منځه ولاړه شي.

استعمار یوازې اقتصادي تسلط نه، بلکې فکري، سیاسي او نظامي تسلط دی. خو غرب له فکري پلوه سقوط کړی، ځینې غربي رهبرانو او قوماندانانو د مسلمانانو پر وړاندې پر خپلې فکري او سیاسي ماتې اعتراف کړی او دا په ډاګه شوې چې غرب دروغجن او فرېبکار دی. دغه راز د خپلو پروګرامونو، سیاستونو او نقشو د پلي کولو لپاره له پوځي ځواک پرته بل څه په واک کې نه لري. غرب له اسلامي امت سره په پوځي جګړه کې ښکېل دی،

مسلمانان وژني او کورونه يې ويجاړوي. خو هېڅ وخت يې جګړه پای ته ونه رسېده او د بريا لامل يې نه شوه. په سياست کې يې له څېرې پرده پورته شوه او له اخلاقي پلوه رسوا شو. امت د غرب ډېرې خامۍ درک کړې او د خپل دين او ځان په اړه ډېر پوه شوی دی، د الله سبحانه وتعالی پر نصرت يې باور زيات شوی او د خلافت په بيا راګرځېدو ډاډمن شوی! دغه راز د يووالي پر لور ګړندي ګامونه اخلي او د ښکېلاکګرو کفارو له لوري د اسلامي خاورو تر منځ رسم شوو ليکو ته ارزښت نه ورکوي.

د انساني ستونزو د حل، د انرژۍ د کشف، توليد او له هغې څخه د استفادې، د ژوند په ټولو برخو کې د پانګونې، هر فرد (هغوی چې د دې نظام تر چتر لاندې ژوند کوي) د پانګې د وېش او د دغه پراخ نظام تر چتر لاندې د ټولو اتباعو د احکامو په برخه کې د اسلام اقتصادي نظام ځانګړتياوې او نور ټول موارد د غوره ژوند لپاره دي، چې د يوه کامل او شامل نظام تر څنګ به د خلکو د ژوند اقتصادي ستونزې حل کړي. حتی د خلکو عزت، کرامت، امنيت، اخلاق او ارامتيا خوندي کوي. له دغه نظام څخه بې خبري په دې مانا ده چې دعوتګرانو د ځواک يوه سرچينه له لاسه ورکړې او ستونزې به يې پر ځای پاتې شي. له دغه نظام څخه بې خبري ښېکلاکګرو کفارو او دښمن ته د ډېر فرېب چانس په لاس ورکوي، د امت د نهضت د وروستهوالي او نورو موخو په برخه کې له هغوی سره مرسته کوي.

### د اقتصاد په برخه کې د اسلامي احکامو په اړه د ناپوهۍ ځينې نښې:

د دغې ناپوهۍ نښې او د اسلامي امت د انحطاط سرچينې پر مسلمانانو د غربي کفارو د پانګوالۍ اوږدمهاله تسلط دی. دغه راز يوه مشهور عالم اندکي د ۲۰۰۸م، د نړۍ له مالي بحران وروسته وويل، چې امريکا ډېر ژر له بحراني حالت څخه وځي، ځکه پانګوالي، د خپلې ادعا او ګومان پر اساس، بېرته خپل لومړي حالت ته ورګرځي او بيا کتنه کوي. نوموړی د دې پر ځای چې ووايي پانګوالي پر نړۍ د ظلم او د نړۍ د بدمرغۍ لامل ده، خو له دغه حقيقت څخه يې سترګې پټې کړې. په داسې حال کې چې د پانګوالۍ فکري چټلۍ، جنايتونه او ويجاړۍ ټول اسلامي امت ته په ډاګه شوي دي.

اندکي د دې پر ځای چې د پانګوالۍ حقيقت تشريح کړي ـ چې پانګې يې لوټ کړې، پانګوال يې غريب او غريب يې له منځه وړي او د وحشي حيوان په توګه د خلکو وينې او غوښې خوري او د دې پر ځای چې ښکاره کړي، چې پخپله داسې خپل ځان له منځه وړي لکه اور چې لرګي ختموي او ډېر ژر به پانګوالي د وچو لرګيو په څېر په اور کې وسوځي او ايرې به شي ـ شايعات خپروي چې پانګوالۍ ته بياکتنه کوي او بېرته لومړي حالت ته ورګرځي؛ ګومان کوي چې پانګوالي د انسانانو تر منځ د عدالت سمبول او د اقتصاد په برخه کې يو نوښت دی.

د جهالت دغه نښې، د خلافت په دولت د تطبیقیدونکي راتلونکي اسلامي نظام لپاره مبارزه، په اسلام کې د اقتصادي نظام او د هغه د قواعدو او احکامو په بیانولو باندې تمرکز او په ځینو عربي هېوادونو کې د انقلابونو د رامنځته کېدو په ترڅ کې د هغه چا لور ته د ولسونو پام اوښتل چې د اسلام د تطبیق هڅه یې کوله، دوې خبرې په ډاګه کوي:

**لومړی:** ټولو خلکو اسلام غوښت، خو ډېری خلکو د حکومتي او اقتصادي نظام او نړیوالو اړیکو په برخه کې، چې کوم د اسلام  او کوم د اسلام نه دي، توپیر نه شو کولی. دا ستونزه یوازې په عوامو کې نه وه، بلکې په مشایخو، علماوو، رهبرانو او د اسلام په مخکښانو کې هم وه. دا مساله د مصر له اساسي قانون څخه څرګندېږي، چې په ۲۰۱۲م، کې تصویب شو. ډېرو علمي او اسلامي مرکزونو هغه اسلامي اساسي قانون باله، په داسې حال کې چې کفر پکې له ورایه ښکارېده.

**دویم:** کله چې خلکو د اسلام اقتصادي نظام پلي کول غوښتل او دا مسئله مطرح شوه، سیکولریستي کړیو، رسنیو او مختلفو شخصیتونو اعتراض وکړ او د اسلام اقتصادي نظام د رد او پر هغه د رشخند په موخه یې لاندې پوښتنې سره تبادله کولې: د اسلام اقتصادي نظام څه شی دی!؟ ایا اسلام کې اقتصادي نظام هم شته!؟ ایا له پانګوال نظام څخه پرته چې نړۍ یې پېژني، کوم بل نظام هم شته!؟ له هغه نظام پرته کوم بل نظام هم شته چې د پرمختګ وروستی برید تمثیلوي او بشري نبوغ ترې سرچینه اخلي!؟

دغه دوې مسئلې د مسلمانانو پر کمزورۍ دلالت کوي، چې د عامو مسلمانانو، علماوو، متخصصینو او دعوتګرانو د مخاطبولو پر مهال باید تمرکز پرې وشي. ځکه د صحیح اسلامي عمومي رایې رامنځته کول، له بلې هرې مفکورې لرېوالی او د هغو په دامونو کې نه لوېدل یوه جدي اړتیا ده. په ځانګړي ډول په هغه څه کې چې غیر اسلامي اساسي قوانین دي، خو د اسلامي ګومان ورباندې کېږي، په داسې حال کې چې په غیر اسلامي حکومتي او اقتصادي نظامونو پورې تړلي دي. اوسنی واقعیت او د کمزورۍ ټکي ډېرې پاملرنې او هڅو ته اړتیا لري، په ځانګړي ډول د اسلام اقتصادي نظام.

د پانګوالۍ ایډیولوژي مخ پر ځوړ ده، چې پر مسلمانانو د دغه نظام تپل او هغوی ته یې د اسلام د بدیل په توګه وړاندې کول یوازې یو فریب دی، چې د اسلامي امت ناپوهي او پر مومنانو د اسلام او اسلامي عقیدې اغېزه په ډاګه کوي. یعنې په هغه وخت او حالت کې چې مومنانو له اسلامي افکارو او احکامو څخه ملاتړ کړی او د هغوی لپاره پر مفاهیمو بدل شوي، نو په هغه وخت کې د مسلمانانو پر وړاندې غربي فکري جګړې ډېرې اغېزې نه درلودې، خو د اقتصاد او سیاسي اقتصاد په برخه کې یې اغېزې ډېرې وې. نو اقتصادي نظام د هغو احکامو او

افکارو ته باید ډېره پاملرنه وشي، ځکه اقتصاد او اقتصادي قدرت په ژوند، د دولتي قدرت په پروژو او فعالیتونو کې ځانګړی رول لوبوي. اکثریت فردي او دولتي چارې له اقتصاد پرته نه شي تر سره کېدای، لکه څرنګه چې ویل کېږي شتمني او اقتصاد د ژوند شریانونه دي.

د دغه بحث په پای کې باید د اسلام اقتصادي نظام، د غربي پانګوال نظام له بدمرغیو، چل، فرېب او ظلم سره پرتله کړو. دا چې د یوه شي ښه والی د هغه متقابل او ضد ښه په ډاګه کولی شي، نو د اسلام اقتصادي نظام عمومي قواعد او پروګرامونه باید په ډاګه شي او په دې برخه کې د شیخ تقی الدین نبهاني کتاب «د اسلام اقتصادي نظام» یوه غوره سرچینه ده. څومره ژوروالی، ټولشمولوالی، محوریت او نبوغ چې په دغه کتاب کې دی، په بل کې یې نه شئ موندلی. دغه راز په دې برخه کې بله غوره سرچینه د شیخ صاحب لخوا د اساسي قانون لپاره ترتیب شوې د اساسي قانون مادې دي چې حزب التحریر د راتلونکي اسلامي دولت لپاره د اساسي قانون د مسودې په توګه وړاندې کړې او پوره جزئیات یې د حزب التحریر لخوا د دغه قانون په شرح «د اساسي قانون شرح او د هغه اړین دلایل» او دغه راز د حزب التحریر نور منشورات دي.

د دغه قانون موخه د بېلګې په توګه د اسلام اساسي قانون وړاندې کول دي، چې د اسلامي دولت لپاره اساسي قانون شي او هغو کسانو ته چې د اسلام هغه اقتصادي نظام، چې الله تعالی پر رسول الله صلی الله علیه وسلم د وحې له لارې نازل کړی نه مني او ردوي یې، ځواب شي. هغه نظام چې احکام او قواعد یې د شرعي اجتهاد له لارې یوازې د الله تعالی له کتاب، د رسول الله صلی الله علیه وسلم له سنتو، شرعي قیاس او صحابه وو له اجماع څخه استنباط شوي دي. نو موږ له ځان سره د اسلام عصري اقتصادي نظام لرو، چې احکام یې زموږ د سلف صالحینو د استنباط په طریقې استنباط شوي او هغه نظام چې باید بې‌ساري اقتصادي نظام ورته ووایو... هغه څه چې د الله سبحانه وتعالی په توفیق سره غواړو په راتلونکې ګڼه کې ورته اشاره وکړو، تر څو مو بحث تکمیل شي.

دوام لري...

**لیکوال: محمود عبدالهادي**

**ژباړن: حبیب الله حبیب**

**سرچینه: الوعی مجله (۴۳۱) ګڼه**